د ماسترۍ یا دوکتورا لپاره پروپوزل څه شی دی؟

د دوکتورا یا هم د ماسترۍ لپاره یو پروپوزل د تاسو د څانګړې پروژې هغه خلاصه ده چې د لاندې موخو لپاره پلان شوې وي:

- یو مشخص سوال ولري او د ځواب لپاره یې ګړنلاره وړاندې شي.
- اهمیت او کره توب یې په ګوته شي
- دا باید واضېح شي چې په عملي برخه کې څنګه د شته لیکل شویو موادو څخه

خپلې پروژې ته ورګډ، انکشاف او یا هم هغه چلینج کولی شئ.

- احتمالي یا کېدونکی سوپروایزر (لارښود استاد) یا هغه مؤسسه چې د بودیجه

برخه کې مرسته کوي، د تاسو د پروژې د اهمیت په نظر کې نیولو سره باید وهڅول

شي، او دا ورته په ډاګه شي چې څنګه تاسې ورته وړ کس یی.

د څېړنې پروپوزل شاید د لیکلو له نظره لنډ یا هم اوږد وي، ولې تاسې یې باید په هغه ډول ولیکئ چې د هماغه دیپارتمنت کوم ته چې تاسې غوښتنلیک سپارئ د لایحې اړوند تیار شي. یعنې د تورو، کلمیو، صفحو، او لارښود په نظر کې نیولو سره باید ولیکل شي. په عمومي ډول د پروپوزل د کلیماتو شمیر ۳۰۰ دی کوم چې د غوښتنلیک فورمې سره جوخت لیکل کیږي.

Ketabton.com

**د څه لپاره د څېړنې پروپوزل لیکل کیږي؟**

احتمالي یا کېدونکی سوپروایزر، استاد یا هم د بودیجې برخه کې مرسته کونکې کسان پروپوزل ددې لپاره کاروي تر څو د تاسو د نظریو، مهارتونو او کېدنې امکان په څرنګوالي او څومره والي پوه او ارزیابي کړي. هر هېواد د لایحې اړوند د ماسترۍ او همدارز دکتورا لپاره ځانګړی وخت لري چې ماسترې په زیاترو هېوادو کې دوه کاله او دکتورا درې کاله وي. هغه چې په وقفیې ډول (نیمه وخت) لوستل کیږي د هغې بیا د بشپړلولو وخت توپیر کوي چې نیږدې دوه ځله زیات وخت نیسي. نو پدې برخه کې باید

(c) ketabton.com: The Digital Library

په احتیاط سره فکر وشي، او دا موخې ورکې ذکر شي چې څنګه آماده کېدای شي چې په دې تاکل شوي وخت کې خپله څېړنه یا پروژه بشپړه کړئ.

همدارنګه د څېړنې پروپوزل ددې لپاره استفاده کيږي ترڅو ستاسو مهارت په هغه برخه کې کوم چې کار وربادنې کړئ، پوهه مو د شته لیکل شویو کتابو یا مقالو په هکله وآزمويي.

دا غوره ده چې خپل د خوښې اړوند مضامینو کې خبرې وکړې او یوه د هڅونې مباحثه پداسې ډول وړاندې شي چې څنګه کوی شی خپله ټاکل شوې پروژه سرته ورسوي. برسیره پردې، باید پروپوزل مو لومړنۍ خلاصه او غوره مطالب ولري تر څو ددې سبب شي چې د لوستونکو پام ځان ته را جلب کړي او په اهمیت بې قناعت حاصل او ستاسو څېړنه ومنئ.

## د څېړنیز پروپوزل جوړښت

مخکې له دې چې د پروپوزل سترکچر (جوړښت) ولیکل شي باید د همامغه دیپارمنټ یا د هغه مؤسسې غوښتنلکیونه وکتل شي چې دوی د پروپوزل لپاره مشخصه نمونه، شکل یا چوکاټ لري. که یې نلري نو په عمومې ډول لاندې ټکي د پروپوزل په لیکلو کې ډېر مهم رول لوبوي.

## عنوان

عنوان باید ډېر مهم کلیمات ولري. یعنې د ستاسو پروپوزل کوم چې احتمالي سوپروایزر، مرسته کونکو موسسې، پوهنتون یا نورو ادارو ته یې چې سپارئ د هغه د موخو او موضعوعاتو سره نبغ په نېغه اړیکه ولري. همداراز عنوان مو ددې وړتیا ولري چې په ساده ډول ستاسو ټاکل شوې موضوع تشریح او د شته سوال ښونکی وي.

## د څېړنې عمومي خلاصه:

پدې برخه کې یې عمومي خلاصه ولیکئ. خلاصه کې باید په ګوته شي چې پروپوزل مو د شته علمي مباحثو سره اړیکه لري. د موضوعاتو او بحث په برخه کې باید تر حده کوښښ وشي چې ځانګړی سبک ولري، تر څو د لوستونکیو نظر بلخوا یونسي. پدې برخه کې همداراز هڅه وکړی چې ستاسو د څېړنې موسسې یا دیپارتمنټ چې غواړی غوښتنلیک ورته وسپاری سره اړیکه کې شئ. ددې اړیکې لپاره غوره لار د دیپارتمنټ

(c) ketabton.com: The Digital Library

ویبسایټ باید وکتل شي او د شته څېړونکیو څپاره شوي کتابونه، مقالي، پوسترونه، پریزینټشنونه وګوړئ تر څو پوه شی ستاسو پروژه کوم څه ولري او څنګه سرته رسېدی شي.

**سوال او موخې:**

- د څېړنې لپاره سوالونه وکړي او دلیل یې هم ذکر کړی چې ولې مو دا سوال کړی دی.
- د څېرنې هدفونه مو په نښه کړئ او وښیئ چې په څه ډول یې تر لاسه کوی شی. د بېلګې په ډول: تصویري، تیوري، تجروبوي، عملي....
- د څېړنې اهمیت مو په علمي او منطقي ډول واړندې کړئ.

**د څېړنې حالت:**

لومړی څنګه چې مخکې وویل شول، لومړی د کلیمو او صفحو په تعداد باندې ځان پوه کړئ خو زیاتره وخت دا څېپرکی تر ۹۰۰ کلیمو پورې محدود وي. وروسته هڅه وکړی هغه مهم ټکو باندې بحث وکړی چې په اهمیت یې باوري وی، او دا وښئ چې تاسې د څېړنې په موضوعاتو باندې پوره پوهاوی لري. همدا راز په تیوري او عملي ډول په ګوته کړی چې څېړنه مو څومره د کړلو وړ ده. پدې برخه کې بعضې دیاګرامونه او مضوعات ذکر کړی چې مخکنیو سوالو ته مو په تحلیلی ډول لنډ ځواب ویونکي وي.

**د څېړنې میتودولوژي او طرحه**

پدې برخه کې هم د لیکل شویو کلیمو تعداد مهم دی او کېدای شي تر زرو پورې وي. دا برخه په دې ټول باید برابر شي چې ساختمان او ځانګړی میتودونه کوم چې په څېړنه کې غواړې استفاده کړئ دلته یې ولیکئ. خو په عمومي ډول باید مهم او لاندې موضوعات ولري:

- د څېړنې پارامترونه یا اصلي موضوعات ذکر او تعریف کړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

- بحث وکړئ او خپل منطقي دلیلونه مو پداسې ډول وړاندې کړی چې د موضوع اصلي موخې ته نېږدې کيږي.
- ځانګړې موخې او تګلارې يې څه ډول ترلاسه کوی شئ.
- نتيجه يې واړندې کړئ
- که وړ وي وړانديزونه وليکئ. هغه داسې چې ددې پروژې په جريان کې د وخت، يا اقتصادي مشکلاتو په خاطر نشی کارولی. نو که خپله يا بل څوک غواړئ پدې برخه کې څېړنه وکړي نو د هغه د لاښه غوروالي لپاره وړاندې شوي وړانديزونو باندې عمل وکړي او ښه پايله ترلاسه کړي.

**مأخذونه**

هغه مأخذونه بايد ذکر شي چې د څېړنې سره مو اړيکه ولري او لوستونکي پدې قانع کړي چې تاسې په سمه لار روان يی. همداراز هغه کتابونه، مقالې، رسالې... بايد وليکل شي چې په متن او همداراز د څېړنې په جريان کې يې استفاده کوئ.

**د څېړنيزې پروژې لپاره مو مهال ويش وټاکئ**

د بېلګې په ډول لاندې مهال ويش ما د خپل کار لپاره برابر کړی دی.

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**